# دامیرِ اهلِسُنَّت نه

# دقَضا لمونځونو

## په باره کښې سوال او جواب

پښتو





پیشکش:

مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)

ترجمو:

ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د امیرِ اهلِسُنَّت نه د قضا لمونځونو په باره کښې سوالونه او جوابونه

**دُعائے جانشینِ عطار:** یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "د امیرِ اهلِسُنَّت نه د قضا لمونځونو په باره کښې سوالونه او جوابونه" اولولي که واوري، چې د هغه نه تر مرګه پورې یو لمونځ هم قضا نه شي او هغه بے حسابه اوبخښې-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## د دُرُود شریف فضیلت

د الله پاک آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لمونځ نه پس حمد او ثنا او دُرُود شریف لوستونکي ته اوفرمائیل: "دُعا اوغواړه قبول کولے به شي، سوال کوه، درکولے به شي-"

(نسائی، ص220، حدیث:1281)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**سوال:** د بے لمانځو د پاره څه وعیدونه دي؟ ارشاد اوفرمائیئ-

**جواب:** د بے لمانځه د ټولو نه غټه بد نصيبي دا ده چې هغه د الله پاک او د هغه د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نافرمانه دے- الله پاک په قرآنِ كريم كښې ځائے په ځائے د لمونځ حکم فرمائيلے دے، خو دا هغه حکم نه عملي کوي- دغه شان خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم په بے شميره موقعو باندې د لمونځ حکم فرمائيلے دے، خو دا هغه حکم عملي طور نه خپلوي، نو دا د ده بد بختي او بد نصيبي ده- څوک چې قصداً عمداً يو لمونځ نه کوي نو د هغه د پاره د دوزخ خاص دروازه ده، په کومې به چې دے دوزخ ته بوتللے شي-

(حلية الاولياء، 299/7، حديث:10590)

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې لمونځ قضا کوي نو هغه د زرګونو کالو د دوزخ د عذاب حقدار دے- ( فتاوىٰ رضويه، 158/9) بهر حال مسلمان له په هر حال کښې لمونځ قائمول پکار دي، بے لمانځه انسان د څه کار؟ ماشومانو بلکه د کور ټولو ګسانو ته د لمونځ تلقين کول پکار دي- که چرې هغوئي ئې نه کوي نو بيا به هم مونږ ته د وئيلو (يعني د نيکئ د دعوت ورکولو) ثواب خو ميلاؤيږي- هم دارنګه د بيا بيا وئيلو او پوهه کولو سره به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د لمونځ توفيق هم ميلاؤ شي-

مونږ به مخکښې په بليک بورډ او ښکاره ځيونو کښې دا ليکل ليدل چې ”لمونځ قائم کړئ“ د دې د بيا بيا ليدلو سره به مو د لمونځ کولو ذهن جوړيدو چې لمونځ ډير اهم دے، دا نه دي پريښودل پکار او حقيقت هم دا دے چې لمونځ ډير اهم دے- ځکه که چرې اوس هم مونږه په هره خبره

کښې د لمونځ ذِکر کوؤ نو اوریدونکي ته به ترغیب میلاؤیږي، داسې به هغه لمونځ ګزاره جوړیږي او اِنۡ شَآءَاللهُ الۡكَرِيۡم! جُماتونه به هم آباديږي-

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 242/1 )

سوال: آیا قضائے عمري ضروري ده؟

جواب: قضائے عمري فرض ده- د چا نه چې لمونځونه قضا شوي وي، د هغه د توبې صورت هم دغه دے چې هغه د توبې کولو سره سره ازاله هم اوکړي یعنې چې کوم لمونځونه قضا شوي دي، هغه ټول ادا هم کړي-

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 273/2 )

سوال: قضائے عمري د کومو لمونځونو وي؟

جواب: قضائے عمري صرف د فرض او وتر وي، نو داسې د یوې ورځې 20 رکعتونه جوړیږي، دوه فرض د سحر د لمونځ، څلور فرض د ماسپخین د لمونځ، څلور فرض د مازیګر د لمونځ، درې فرض د ماښام د لمونځ، څلور فرض د ماسخوتن د لمونځ او درې وِتر- (ملفوظات اعلیٰ حضرت، ص 125)

د سُنَّتو او نفلونو قضا نه وي-

(جنتی زیور، ص274۔ فتاویٰ رضویہ، 146/8 -148 ماخوذا؛ ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 274/2)

سوال: قضا لمونځ د ورځې په کومو وختونو کښې ادا کیدے شي؟

جواب: درې وختونه مکروه دي (د نمر راختو نه پس تر 20 منټو پورې، د ضحوۂ، کُبریٰ په وخت، د نمر پریوتو نه مخکښې آخري 20 منټه) د دې نه علاوه په هر وخت کښې قضا لمونځ کولے شي-

(فتاویٰ ہندیہ، 52/1؛ ملفوظات امیرِ اہلِ سنت، 331/7)

سوال: آیا قضا لمونځونه په کور کښې کولے شي؟

**جواب:** قضا لمونځونه په کور کښې کول پکار دي- په جُمات کښې د ټولو په مخکښې داسې کول چې خلقو ته پته اولګي چې دا قضا لمونځ کوي نو داسې کول جائز نه دي- (درمختا، 650/2 ماخوذا) البته که چرې يو لمونځ د ټولو نه قضا شوے وي نو هغه د جَمعې سره کولے شي- (فتاوی ہنديہ، 55/1) که يواځې د چا لمونځ قضا شوے وي نو نورو خلقو ته پته نه دي لګيدل پکار، ځکه چې د شرعي عُذر نه بغير قصداً عمداً لمونځ قضا کول ګناه ده ځکه دې د دې اظهار نورو ته نه کولے کيږي-

(ملفوظاتِ امير اِہلِ سنت، 363/2 )

**سوال:** اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول سره د تړون لرلو وروستو لمونځونه په وخت باندې د ادا کولو ذهن جوړيږي- د مخکښينو لمونځونو په وخت باندې د ادا کولو څه آسانه طريقه اوښائيئ-

**جواب:** قضا لمونځونه ډير زر ادا کول واجب دي- (درمختار، 646/2) قضا لمونځونه به په توبې سره نه معاف کيږي، البته د ادا کولو وروستو د قضا ګناه به په توبې سره معاف شي- که چرې څوک قضا نه ادا کوي او هسې توبې اوباسي نو دا توبه نه ده، ځکه چې ګناه خو اوس هم د هغه په ذمه پاتې ده- (درمختار، 627/2) که چرې چا ته د ډيرو کلونو د قضا لمونځونو حساب کول دي نو هغه چې د کله نه بالغ شوے وي د هغه وخت نه دې حساب اوکړي، که چرې د بالغيدو پته ورته هم نشته چې کله [بالغ] شوے وو نو بيا دې د هجرئ کال په حساب سره نارينه د 12 کالو عمر نه او زنانه د 9 کالو عمر نه د لمونځونو حساب اوکړي- هلک د 12 او 15 کالو عمر ترمينځه بالغيږي، ولې جينئ د 9 او 15 کالو عمر ترمينځه

بالغیږي- صرف د فرض رکعتونو قضا دې اوکړے شي او د دریو وترو قضا به هم راوړل وي- داسې هره ورځ دا 20 رکعته جوړیږي-

(فتاوٰی رضویه، 8/ 154 -157، ماخوذا)

په خلقو کښې دا مشهوره ده چې د هر لمونځ سره دې یو قضا لمونځ اوکړي حالانکه داسې نه ده، واجب دا دي چې زر زر ټول لمونځونه اوکړے شي او خپله غاړه خلاصه کړے شي- ځکه چې د ضروري کار، روزګار، خوراک څښاک او اوده کیدو وغیره معاملو د کومو نه بغیر چې د انسان ګزاره نه کیږي، نه علاوه چې کوم وخت هم میلاؤ شي نو په هغې کښې دې قضا لمونځونه اوکړي، د پاره د دې چې د فرضو نه سبکدوش شي-

(درمختار، 2/646- بهار شریعت، 1/706، حصه:4؛ ملفوظات امیر اہل سنت، 2/363)

**سوال:** صاحبِ ترتیب به خپل لمونځونه څنګه ادا کوي؟

**جواب:** که چرې څوک صاحبِ ترتیب دے نو هغه ته به د راتلونکې لمونځ نه مخکښې وړومبے [قضا] لمونځ ادا کول وي- (بہارِ شریعت، 1/703، حصه:4 ماخوذا) لکه که چرې د یو کس نه د ماسخوتن لمونځ قضا شو او په هغه باندې د شپږو لمونځونو نه د کمو لمونځونو قضا ده نو په هغه فرض دي چې دے د سحر د لمونځ کولو نه مخکښې قضا لمونځ ادا کړي، که چرې دے د قضا لمونځ نه مخکښې د سحر لمونځ اوکړي نو د سحر لمونځ به ئې نه کیږي- البته که چرې د سحر لمونځونه دومره کم پاتې شو چې که چرې د قضا لمونځ د پاره اودریږي، نو وخت به تیر شي نو هم د سحر لمونځ دې اوکړي چې په دې حالت کښې د سحر په لمونځ کولو کښې

هيڅ باک نشته، د ده د سحر لمونځ به ادا شي- (بہار شریعت، 703/1، حصہ4: ماخوذا)
خو هغه قضا به ئې اوس هم په ذمه پاتې وي- که چرې د چا د شپږو لمونځونو نه زيات لمونځونه قضا دي يعنې د شپږم لمونځ وخت هم تير شوے دے نو دے اوس صاحبِ ترتيب نه دے پاتې، اوس ده ته اجازت دے که د هغه وخت لمونځ مخکښې کوي او که د ژوند څه قضا شوے لمونځ مخکښې کوي- (بہار شریعت، 705/1، حصہ4: ماخوذا) د چا نه چې ډير لمونځونه قضا شوي دي هغه دې نه ګډ وډيرې چې زمونږه هډو لمونځ نه کيږي، داسې نه ده- که چرې هغه صاحبِ ترتيب نه دے نو د خپلو وختي لمونځونو سره سره دې قضا [لمونځونه] هم کوي ځکه چې د دې قضا لمونځونو زر تر زره ادا کول واجب دي-

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 438/1)

**سوال:** د چا په ذِمه چې قضا لمونځونه وي، آيا د هغه نفلونه قبليږي؟

**جواب:** تر څو پورې چې د چا په ذِمه باندې فرض باقي وي، د هغه هيڅ نفلونه نه قبليږي، لکه څنګه چې اعلیٰ حضرت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په مشهور کتاب "فتاویٰ رضويه شريف، جلد 10 صفحه 179" باندې نقل فرمائي چې کله د اميرُ المؤمِنِين حضرت صدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ځنکدن وخت شو، اميرُ المؤمِنِين فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ئې راوبللو او اوئې فرمائيل: اے عمره (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ)! د الله پاک نه ويريږه او پوهه شه چې د الله پاک څه کارونه په ورځ کښې دي کوم چې د ورځې اوکړې نو قبول به ئې نه کړي او څه کارونه په شپه کښې دي چې دا په ورځ کښې اوکړې نو

قبول به نه شي او خبردار اوسه چې هيڅ نفل نه قبليږي تر څو پورې چې فرض ادا نه کړے شي۔

(حلية اولياء، 71/1، رقم: 83)

حُضُور غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل کتاب مستطاب "فُتوحُ الغيب" کښې د داسې کَس مثال کوم چې فرض پريږدي او نفل کوي، داسې بيان فرمائي: د هغه مثال داسې دے لکه چې يو کَس بادشاه د خپل خِدمت د پاره را اوغواړي، دے هلته خو حاضر نه شو او د هغه د غلام په خدمت کولو کښې موجود پاتې شو۔ همد رانګه فرمائي: که چرې فرض پريږدي او په سُنَّت او نفلو کښې مشغول شي، دا به نه قبليږي او خواريږي (ذليله) کولے کيږي به۔

( فتوح الغيب، (مترجم) ص120)

حضرت شَيخُ الشُيُوخ امام شَهابُ المِلَّةِ وَ الدِّين سُهروَردي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په "عَوارِف شريف" کښې د حضرت خَوّاص رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه نقل فرمائي: مونږ ته خبر رارسيدلے دے چې الله پاک هيڅ نفل نه قبلوي، تر دې پورې چې فرض ادا کړے شي۔ الله پاک داسې خلقو ته فرمائي: مثال ستاسو، د بَد بنده (د هغه بَد کَس) په شان دے کوم چې د قرض ادا کولو نه مخکښې ډالۍ [تحفه] وړاندې کړي۔ (عوارف المعارف، ص 191) اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: تر څو پورې چې فرض په ذمه پاتې وي، هيڅ نفل نه قبلولے کيږي۔ (ملفوظات اعلیٰ حضرت، ص 126) آؤ! چې کله هغه بنده د خپلې ذمې د پاتې ټولو فرضو لمونځونو نه بري شي نو د الله پاک د بارګاه نه طمع ده چې د هغه نفلونه هم قبول شي ځکه چې د نفلونو په قبليدو کښې چې

کوم خيز خنډ وو، ختم شو- لکه څنګه چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور فرمائي: د دې ټولو به هم د قبليدو طمع وي چې د کوم جرم له کبله دا د قبليدو قابل نه وو، چې هغه ختم شو نو دې ته هم بِاِذنِ اللّٰهِ تعالیٰ د قبليدو شرف حاصل شو-

( فتاویٰ رضويه، 182/10)

## يو مدني خواست

دې د پاره مدني خواست دے چې که چرې ستاسو نه لمونځونه قضا شوي دي نو د نفلونو په ځائے هم قضا شوي لمونځونه کوئ، د پاره د دې چې څومره زر ممکن وي خپله غاړه د باقي پاتو فرائضو نه هم خلاصه کړئ چې قضا لمونځونه د نفلونو نه ډير اهم دي- صَدرُ الشّريعه، بَدرُ الطّريقه حضرت علامه مولانا مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: قضا لمونځونه د نفلونو نه اهم دي يعني په کوم وخت کښې چې نفل کوي هغه دې پريږدي او د هغې په ځائے دې قضا [لمونځونه] اوکړي چې بريُ الذّمه [يعني غاړه ئې خلاصه] شي- البته تراويح او 12 رکعتونه (د سحر لمونځ 2 سُنت، د ماسپخين 6 سُنت، د ماښام 2 سُنت، د ماسخوتن 2 سنت) سنتِ مؤکَّده دې نه پريږدي- (بهار شريعت، 706/1، حصه:4) خَليلِ مِلَّت حضرت علَّامه مولانا مفتي محمد خليل خان قادري برکاتي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې لاندې فرمائي: طمع دې ساتي چې مولا به په خپل خاص کرم سره د قضا لمونځونو په باره کښې د هغه نفلونو ثواب هم د خپلو غيبي خزانو نه عطا کړي، د کومو په

وختونو کښې چې دا قضا لمونځونه ادا کړے شوي دي- وَاللّٰهُ ذُو الفَضلِ العَظِيمِ-

(سُنّی بہشتی زیور، ص 240؛ ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 63/1)

سوال: که چرې کوم ګس پاک نه وي او هغه ته ياد نه وي چې هغه پاک نه دے او په دې حالت کښې لمونځونه اوکړي نو د دغه لمونځونو به څه حکم وي؟

جواب: ناپاکي يعني د غُسل په حالت کښې ادا کړي شوي لمونځونه، هډو شوي نه دي، د دې بيا ادا کول ضروري دي- (بہار شریعت، 282/1 حصہ:2 ماخوذا) که چرې وخت تير شوے وي نو د فرضو قضا دې راوړي او که چرې په وتر کښې داسې شوي دي نو د هغې دې هم قضا راوړي- د سُنَّتو او نفلو قضا نشته-

(درمختار مع رد المحتار، 633/2 ماخوذا؛ ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت ، 274/2)

سوال: که چرې د سفر په وخت قضا لمونځ ادا کول وي نو پوره به ئې کوي يا قصر؟ هم دارنګه د مازيګر او سحر قضا لمونځونه د مازيګر او د سحر اذان کيدو نه مخکښې کولے شي يا د اذان نه به ئې وروستو کوي؟

جواب: که چرې لمونځ په سفر کښې قضا شوے وو نو که په سفر کښې ئې ادا کوي او که په حَضَر (مثلاً په خپل ښار) کښې، قصر به کول وي ځکه چې هغه لمونځ قصر قضا شوے وو- داسې که چرې په حَضَر کښې لمونځ قضا شو نو که په سفر کښې ئې ادا کوي او که په حَضَر کښې پوره به کول وي- (ردالمحتار، 650/2) د سحر او د مازيګر د قضا [لمونځونو] ادا کولو د پاره د سحر او مازيګر ترمينځه اذان ضروري نه دے، نه د سحر او

مازیګر وخت ضروري دے، بلکه حکم دا دے چې څومره زر وي قضا لمونځونه دې ادا کړي۔

(در مختار، 646/2؛ ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 566/3)

سوال: د سحر لمونځ که قضا شي نو دا قضا لمونځ په بَله ورځ د سحر په وخت کولے شي یا په ژوند کښې څه وخت هم ادا کیدے شي؟ هم دارنګه آیا د سحر د قضا لمونځ سره سره به د دې سُنَّت هم ادا کول وي؟

جواب: که چرې د سحر سُنَّت پاتې شي نو د دې قضا نه وي او د دې په قضا نه راوړلو باندې ګناه هم نه میلاؤیږي، ځکه چې قضا صرف د فرض [لمونځونو] وي۔ آؤ! که چرې د سحر قضا شوي سُنَّت ادا کول وي نو هم په هغه ورځ د 20 منټو تیریدو وروستو د اشراق د وخت نه د نصف النهار پورې، وخت کښې ادا کول مستحب دي۔ د دغه وخت نه پس مستحب هم نه دي۔ (1)

(ردالمحتار، 550/2؛ ملفوظات امیر اہل سنت، 7/ 241 )

سوال: د ډیرو خلقو قضائے عُمري یعنې فرض لمونځونه پاتې وي، دې خلقو له قضائے عُمري کول پکار دي یا د تراویح لمونځ له ترجیح ورکول پکار دي؟

جواب: که چرې په ذمه باندې قضائے عُمري پاتې وي نو ترجیح به هغې

---

[1] ۔۔۔ اعلیٰ حضرت، امام اهلِسنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: (د سحر سُنَّت) که چرې د فرضو سره قضا شوي وي نو د ضحوۂ کبریٰ تر راتلو پورې د دې قضا ده، د دې نه پس نشته او که چرې فرض ئې اوکړل، سُنَّت پاتې شو نو د نمر تر را اوچتیدو پورې د دې ادا کول مستحب دي، د نمر د راختلو نه مخکښې جائز (روا) نه دي۔ (فتاویٰ رضویه، 145/8)

ته حاصله وي- خو د دې هيڅکله هم دا مطلب نه دے چې د قضائے عُمرئ په وجه دې د تراويح لمونځ يا نور سُنَنِ مُؤَكّده پريښودے شي- دې د پاره به د تراويح لمونځ پريښودل بالكل جائز نه وي- مسلمانانو له پکار دي چې هغوئي د خپلو ټولو ضروري مصروفياتو نه فارغ شي نو قضائے عُمري دې ادا کړي او د دې سره سره دې نور سُنَنِ مُؤَكّده او د تراويح لمونځ هم کوي-

(ملفوظاتِ امير اہلِ سنت، 6/ 241 )

**سوال:** آيا حامِله زنانه خپل قضا لمونځونه په ناسته کولے شي؟

**جواب:** د حامِله مسئلې ډيرې پيچيده دي، صرف د حامِله کيدو په وجه باندې به په ناسته د لمونځ کولو اجازت نه ميلاؤيږي- آؤ که چرې د دې نه سجدۀ حقيقي ساقط شوه نو د دې نه به قيام هم ساقِط شي- (درمختار مع رد المحتار، 164/2) اوس به دې ته په ناسته د لمونځ کولو اجازت وي- بيا په دې حالت کښې هغه خپل قضا لمونځونه هم که چرې په ناسته کوي نو هغه به هم ادا شي- (1)

( درمختار، 650/2؛ ملفوظات امير اہل سنت، 6/ 382)

**سوال:** کراچۍ ډير غټ ښار دے، په دې کښې د يو کوټ نه تر بَل کوټه پورې په تللو کښې يو يوه نيمه ګهنټه تيريږي، چې کله څه ځائے ته په رسيدو کښې تادي وي نو د ماسپخين لمونځ قضا کيږي- آيا د داسې قِسمه سفر په وجه د ماسپخين لمونځ کښې قصر کولے شي؟

---

1... د نور تفصيل نه د ځان خبرولو د پاره "کرسی پر نماز پڑھنے کے اَحکام" رِساله اولولئ-

**جواب:** د قصر لمونځ کولو د پاره شرعي سفر کول ضروري دي [1] او په يو ښار کښې تګ راتګ کولو ته شرعي سفر نشي وئيلے- ځکه به په دې کښې پوره لمونځ کول وي- آؤ! که چرې څوک په يو ښار کښې مسافر دے او د 15 ورځو نه کمو ورځو پورې به هلته وي نو هغه به شرعي مسافر وي- اوس هغه په لمونځ کښې قصر کولے شي- خو که په کراچۍ کښې ميشته دے او دلته د اوسيدو سره د يو ځائے نه بل ځائے ته سفر کوي نو دا شرعي مسافر نه دے، ځکه قصر لمونځ نشي کولے- پوښتنه کوونکي د ماسپخين د لمانځه په باره کښې اووئيل، نو عرض دے چې د ماسپخين په لمونځ کښې ګنجائش زيات وي- که چرې په سفر کښې ګهنټه يو نيمه ګهنټه بلکه دوه درې ګهنټې هم تيرېږي بيا هم دومره وخت وي چې د ماسپخين لمونځ اوکړي، لمونځ قضا کول ګران دي- آؤ! که چرې د سفر د پاره په بس کښې څلور نيمې بجې کښيناستو او د ماسپخين وخت پينځه بجې ختميږي نو ظاهره ده چې اوس به د ماسپخين لمونځ قضا شي- ځکه ده له پکار دي چې وړومبے د ماسپخين لمونځ اوکړي بيا د دې نه پس سفر شروع کړي- کله چې هم سفر کول وي نو دې د پاره دې داسې وخت اوټاکي په کوم کښې چې هيڅ لمونځ نه راځي- البته که په ريل ګاډي کښې د لمونځ وخت راشي نو په ريل ګاډي کښې هم لمونځ کيدے شي، خو د دې

---

1... شرعاً مُسافر هغه ګس دے کوم چې د دريو ورځو د مزل (يعني تقريباً د 92 کلو ميټره) پورې د تللو په اراده د کلي نه بهر اووتلو- (بهار شريعت، 1 /740، حصه:4)

د پاره بيلې مسئلې دي- [1] ياد ساتئ! لمونځ فرض دے دا نه شي پريښودے-

(ملفوظات امير اہل سنت، 286/3)

**سوال:** بعضې خلق د مازيګر او د ماښام په لړ شان وخت تيريدو باندې د مازيګر او ماښام لمونځونه قضا کړي، که چرې څوک هغوئي ته اووائي چې اوس هم لا لمونځ قضا کيدو ته وخت شته نو نه ئې مني، داسې خلق څنګه پوهه کړے شي؟

**جواب:** د عِلم کمے دے- خاص طور ماښام چې لړ شان ناوخته شي نو خلق داسې وائي چې اوس د ماښام د لمونځ وخت تير شوے دے، حالانکه په پاکستان کښې د ماښام د لمونځ وخت کم نه کم يو ګهنټه 18 منټه وي- اګر چې بے د څه عذر نه د ماښام لمونځ دومره ناوخته کول چې ستورې نزدې په نظر راځي مکروه دے (فتاویٰ رضويه، 153/5) او بغير د څه شرعي عذر نه دومره ناوخته کوونکے به ګنهګار وي- (بهار شريعت، 453/1، حصه:3) خو لمونځ نه قضا کيږي ځکه چې اوس هم د لمونځ وخت پاتې

---

1... اعلیٰ حضرت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: په ولاړ ريل ګاډي کښې ټول لمونځونه جائز دي او په روان کښې د سحر د سُنّتو نه علاوه ټول سُنَّت او نفل جائز دي خو فرض او وتر يا د سحر سُنَّت نشي کيدے- اهتمام دې اوکړے شي چې په ولاړ (ريل ګاډي) کښې دې اوکړي او (که چرې) پته ورته اولګي چې وخت تيريږي (نو) اودې کړي او کله چې (ريل ګاډے) اودريږي نو بيا دې دغه لمونځونه را اوګرځوي- (فتاویٰ رضويه، 113/5)

دے، که چرې لمونځ اوکړې نو ادا به شي- د لمونځونو د وختونو نقشه د دعوتِ اسلامي په ويب سائټ باندې هم موجوده ده-

(ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 6/ 424)

سوال: په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د يوې نيکۍ ثواب د 70 نيکو برابر ميلاؤيږي، که چرې څوک په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې قضائے عمري کوي نو آيا د يو قضا لمونځ په کولو به 70 قضا لمونځونه ادا شي؟

جواب: نۀ- چې يو قضا لمونځ ادا کړي نو هم يو قضا لمونځ به ادا شي-

(ملفوظاتِ اميرِ اہلِ سنت، 7/ 166)

سوال: آيا قضا لمونځ په ناسته کولے شي هم دارنګه په قضا لمونځ کښې يو سُورت بيا بيا وئيل څنګه دي؟

جواب: قضا لمونځ هم په ولاړه هم هغه شان کول دي لکه څنګه چې ادا لمونځ کولے شي- ځکه چې په قضا کښې فرض او واجب رکعتونه وي، په کومو کښې چې قيام فرض وي- (حاشية الطحطاوى على المراقى الفلاح ، ص353 ماخوذا) که چرې چا ته صرف يو سُورت ياد دے او د دې نه علاوه ورته بَل هيڅ سُورت ياد نه دے نو په هر رکعت کښې دې هم دغه يو سُورت لولي، ګني نو په هر رکعت کښې دې بدل بدل لولي، ځکه چې بغير د مجبورۍ نه په فرض رکعتونو کښې يو سُورت بيا بيا وئيل مکروهِ تنزيهي دے-

سوال: که چرې په اعتکاف کښې د چا نه لمونځ قضا شي نو آيا د هغه اعتکاف به مات شي؟

جواب: که لمونځ ئې پرېښودو نو واقعي چې ډېره سخته ګناه ئې اوکړه- البته په دې باندې به اعتکاف نه ماتيږي- آؤ! که چرې چا د لسو ورځو په سُنَّت اعتکاف کښې روژه ماته کړه يا ئې په څه وجه باندې روژه ماته شوه يا ورته د بيمارئ په وجه روژه ماتول شو يا پرېښودل شو نو اعتکاف به مات شي-

( فيضان رمضان، ص 268)

سوال: د وفات شوي [ګس] د قضا لمونځونو او روژو د فِديې ادا کولو طريقه بيان کړئ-

جواب: وفات شوي [ګس] چې څومره لمونځونه قضا کړي دي د هغې دې حساب اوکړے شي، اوس ئې که چرې ټول عمر لمونځونه نه وي کړي نو د کله نه چې بالغ شوے دے د هغه وخت نه دې حساب اوکړے شي- که دا هم معلومه نه وي چې کله بالغ شوے وو نو د نارينه دې د 12 کالو او د زنانه دې د 9 کالو عمر نه حساب اوکړے شي- دا حساب به د هجري کال په لحاظ سره کولے شي د عيسوي کال نۀ ځکه چې په دواړو کښې فرق دے- اسلامي معاملې ټولې د هجري کال په حساب سره وي- د بده مرغه د مسلمانانو هجري کال ته هډو پام نشته- هجري کال ته فاروقي کال هم وئيلے شي، ځکه چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هجري کال باقاعده جاري فرمائيلے وو- ( تہذيب الاسماء واللغات، 47/1) که دې ته اسلامي کال اووئيلے شي نو هم صحيح دي-

بهر حال د وفات شوي [ګس] د عمر نه دې دغه شان د قضا لمونځونو او

روژو حساب اوکړے شي- د حساب کولو نه پس مثلاً که د زرو (1000) ورځو قضا لمونځونه جوړيږي، اوس د ورځې خو داسې پينځه لمونځونه دي خو د وتر فديه به هم ورکول وي نو داسې به د يوې ورځې شپږ فِديې جوړيږي- دغه شان که مثلاً د زرو (1000) ورځو روژو قضا هم جوړيږي نو د هرې روژې به هم يوه فِديه ورکول وي- نو داسې به د زرو (1000) ورځو د قضا لمونځونو او روژو (7000) فِديې جوړې شي- اوس د دې فِديې مِقدار يوه صَدَقهٔ فِطر [سرسايه] ده کومه چې مونږه په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې ورکوؤ مثلاً دا کال (1439ھ بمطابق 2018) د يوې سرسايه قيمت د غنمو په حساب سره 100 روپۍ وې، ولې د کجورو او وَسکو په حساب سره زياتې جوړيږي- اوس که چرې د غنمو د رقم په حساب سره مسکين له د اووه زره (7000) فِديو قيمت ورکوئ نو دا به اويا زره (70،000) [روپۍ] جوړيږي- اوس که ورسره دومره رقم نشته نو په دې کښې د حيلې هم ګنجائش شته، مثلاً د هغه سره زر (1000) د فديې روپۍ دي، هغه رقم دې د فِديې په طور باندې چا شرعي فقير له ورکړي، شرعي فقير به په هغه رقم باندې د قبضې کولو نه پس د ډالۍ په طور باندې دا رقم هغه ته واپس کړي او د دې د قبضه کولو نه پس دې بيا دا رقم هغه شرعي فقير له ورکړے شي نو داسې د اووه ځله کولو سره اووه زره (7000) فِديې ورکړے شي- د ټول عمر د روژو په حساب کولو کښې چې کومه کومه رَمَضَانُ الْمُبَارَک د 29 ورځو يقيني معلومه شي نو هغه دې 29 اوشميرلے شي- د نورو تفصيلاتو نه د ځان خبرولو د پاره د مکتبة المدينه شائع شوي کتاب ”نماز کے احکام“ کښې موجوده رساله ”قضا نمازوں کا طريقه“ اولولئ، دا رساله د

مکتبة المدینه نه بیله هم میلاؤیدے شي-

(ملفوظات امیر اہل سنت، 247/1)

**سوال:** د نمر راختو سره د سحر لمونځ قضا کیږي، که چرې د سحر په لمونځ کولو کښې رڼا اولګي نو آیا لمونځ به اوشي؟

**جواب:** د نمر د وړومبنۍ سِرې راختو نه مخکښې مخکښې د سحر د لمونځ سلام ګرځول ضروري دے، ځکه چې "د سحر د لمونځ وخت د صبحِ صادِق کیدو نه د نمر د وړومبنۍ سِرې راختو پورې دے-" (بہارِ شریعت، 447/1) ځکه که چرې د سحر په لمونځ کولو کښې د نمر وړومبنۍ سِره را اوختله نو اوس به لمونځ نه کیږي ګڼي نو وه به شي، ځکه چې رڼا خو د صبحِ صادِق د وخت نه شروع کیږي او بیا دا ورو ورو زیاتیږي تر دې پورې چې نمر راوخیژي- بعضې وخت وریځ وي او نمر په نظر نه راځي- بلکه اوریدلي مو دي چې په یو - کے (U.K) وغیره کښې خو نمر ډیر کم په نظر راځي نو په داسې موقعو باندې دې د خپلو خپلو ښارونو یا د ملکونو "د لمونځونو د وختونو د پاره د نقشې" مطابق لمونځ ادا کړے شي-[1]

(ماہنامہ فیضان مدینہ، مئی2017ء، ص8)

---

1... د دعوتِ اسلامي مجلسِ توقیت د ملک او بهر ملکونو د لمونځونو د وختونو نقشې جاري کړې دي، کومې چې د مکتبة المدینه نه هدیةً ترلاسه کیدے شي- هم دارنګه د ټولې دنیا د لمونځونو د وختونو نه د ځان خبرولو د پاره د دعوتِ اسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.net نه د کمپیوټر، اینډ رائیډ او آئي فون وغیره د پاره سافټ وئیر هم ډاون لوډ کولے شئ-

سوال: که چرې په يو کَس باندې پيريان وي او هغه ډير وخت بے هوشه اوسي نو آيا په هغه باندې قضا لمونځ ادا کول واجب دے؟

جواب: په بهارِ شريعت کښې دي: ليونتوب يا بے هوشي که چرې پوره شپږ وخته کَير کړي، که هغه د پيريانو په وجه وي او که د بيمارئ په وجه نو د دغه لمونځونو قضا هم نشته، اګر چې که بے هوشي د انسان يا ماتوونکي ځناور د ويرې نه وي او که د دې نه کمه وي نو قضا واجب ده- (درمختار، 692/2، ماخوذاً بهار شريعت، 72/1، حصه:4 ماخوذا) يعني که چرې يو بنده اويرولو يا د ځناور نه اويريدو يا ئې مار اوليدو او دے بے هوشه شو الغرض که په څه وجه هم بے هوشه شو او په دغه حالت کښې د شپږو فرضو لمونځونو وخت تير شو نو دا لمونځونه به معاف وي- البته پينځه فرض لمونځونه قضا شوي وو او د شپږم د وخت تيريدو نه مخکښې په هوش کښې راغلے نو دا فرض لمونځونه به کول وي-

## په ليونتوب او بے هوشئ کښې فرق

په ليونتوب او بے هوشئ کښې فرق دے، په چا باندې چې ليونتوب راشي هغه په ظاهره په هوش کښې ښکاري، خو په حقيقت کښې هغه په هوش کښې نه وي- بعضې وخت داسې کَس هيڅ بے هيڅه کنځلې کوي، په کاڼو وَلې، کَډې وَدې وائي او هغه د خپلو جامو نه هم خبر نه وي، داسې [کَس] ته خلق پاګل وائي- ولې هغه کَس په چا باندې چې بے هوشي راشي، هغه خو هډو راويخيږي نه، هغه د دې دواړو د پاره دې يعني هغه په کوم چې ليونتوب راغلے او هغه کوم چې بے هوشه شو- (په دې موقع

باندې مفتي صاحب اوفرمائيل:) پيريان هم په بنده باندې ليونتوب راولې، د کوم په وجه چې دے ګډ وَډ حرکتونه کوي-

(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 339/8)

**نوټ:** په صفحه 5 باندې موجود سوال شعبه هفته وار رساله جوړ کړے دے ولې جواب د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطا کړے شوے دے-

## د جمعة الوداع په ورځ د قضا لمونځ په باره کښې غلط فهمي

بعضې خلق د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په آخرئ جمعه کښې د جَمعې سره قضائے عُمري کوي او دا ګڼي چې د ټول عمر قضا [لمونځونه] په دې يو لمونځ سره ادا شول، دې باره کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د قضا شوؤ لمونځونو د کفارې په طور چې دا کومه طريقه (قضائے عمري) ايجاد کړے شوې ده دا بد ترين بدعت دے دې باره کښې چې کوم روايت دے هغه موضوع (د ځانه راوړے شوې) ده دا عمل سخت منع دے-

(فتاویٰ رضويه، 25/8)

# فرمانِ امیرِ اہلِ سنت

دامت برکاتہم العالیہ

پــه ماشــومانو کښــې دا فطــري (يعنــې قــدرتي) خـبره وي چـې هغـوئي د مشرانـو نقـل کـوي، کـه چرې پـه کـور کښـې د ګمونځونـو ماحـول وي نـو ماشـومان بـه هـم د ګمونځونـو نقـل کـوي او کـه چـرې (مَعَـاذَ اللّـه) د سـندور باجـو يـا ډانـس ماحول وي نو ماشومان به هم ډانس کوي۔

(امیرِ اہلِسُنَّت کے ۱۲۶ ارشادات، ص: ٦)


عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پراڼې سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net